وهمچنان شما را امت میانه قرار دادیم تا بر مردم گواه باشید و پیامبر بر شما گواه باشد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

نمبر مسلسل (١١١٦) سال نزدهم شماره (١٣) دوشنبه (٢٠) حمل ١٣٧٥ هـ ش (٢٠) ذي القعده ١٤١٦ هـ ق. -(٨)اپریل ١٩٩٦ م

الهی لارښوونه

اي پيغمبر ! ته چي په هرحالت کي اوسي اوله قرآن نه چي هرڅه اوري، اواي خلکوا تاسي هم چي څه کوي دهغو ټولو په دوران کي موږتاسي گورو . هيڅ ذره يي په اندازه شي په آسمان اوځمکه کي داسي نشته ، نه وروکي نه غټ، چي ستا د پروردگارله نظره پټ وي اوپه يو روښانه دفترکي درج نه وي، واورئ ! څوك چي دالله دوستان دي، ايمان يې راوړي دي، دتقوي لارتي غوره کړي ده په هغو باندي کومه ويره اوکړاونشته .

(يونس - ٦١ - ٦٢)

برادرحکمتیار وحضرت صبغت الله مجددی پیرامون مسایل سیاسی - نظامی کشور بحث وتبادل نظر نمودند

جلال آباد - ١٩ حمل :

برادرحکمتيار امير حزب اسلامي افغانستان باحضرت صبغت الله «مجددي» رهبر جبهه نجات ملي افغانستان ديدار نمود .

خبرنگارشهادت ازشهرجلال آباد گزارش ميدهد : درين ديداركه قبل ازظهر روزگذشته در کلوپ قول اردوي نمبريك ولايت ننگرهارصورت گرفت همايون «جرير»، فضل حق «مجاهد» قوماندان قول اردوي نمبريك ننگرهار ووحيدالله «سباوون» نيزحضور داشتند .

درين ديدار طرفين پيرامون مسائل جاري نظامي ، سياسي وهمچنان راه هاي حل بحران جاري کشور بحث وتبادل نظرنمودند .

قابل ياد آوريست که حضرت صبغت الله مجددي صبح روزگذشته ازطريق تورخم وارد جلال آباد شده بود .

پرکابل باندی دراکتی بریدونو لړی دوام لری

دطالبانو او دولت متقابل بریدونه د(٧) تنو دوژل کیدو او(١١) تنو دټپی کیدو سبب شول

کابل - دحمل ١٩ مه :

پداسي حال کي چي ددولت الوتکو دکابل په جنوب کي دطالبانومرکزونه ترسخت هوايي بريد لاندي نيولي چي په مقابل کي دطالبانو له خواپرکابل راکټي بريدونو اوداسي ربوټ ورکړي شوي چي دويشتل شويو توغنديو څخه ځوراکټ دجمهوري رياست ماني (ارگ) باندي هم لگيدلي دي، خردولتي مقاماتو پرارگ باندي دگوليو دلگيدو په هکله څه ندي ويلي .

دخبري منابعو درپوټ په اساس ددي راکټي بريدونو په نتيجه کي دواړو خواوته درانه ځاني او مالي تلفات

(٤)مخ

په جلال آباد کی کړکیچ دپیداکولو یوه هڅه شنډه

اوناپیژندل شوی وسله وال کسان ونیول شول

جلال آباد - دحمل ١٩ مه :

دننگرهار ولايت دامنيتي چارو مسئولينو پدي ولايت کي دکړکيچ او ناآرامي پيداکولو لپاره دناپيژندل شويو وسله والو افرادو يوه ډله کشف اوونيوله .

شهادت ته دننگرهار ولايت دامنيتي چارويوه مسئول مقام ووېل، دغه افرادوچي شميرې (٣٠) تنه دي کله ځان يوه قوماندان اوکله بل قوماندان ته منسوب گنلو، په حقيقت کي له يوه قوماندان سره هم رابطه نه درلوده .

(٤)مخ

به نوشته روزنامه رسالت :

رهبران افغان مصالح کشور خود را در اولویت قرار دهند

تهران - ١٨ حمل :

اکثر روزنامه ها ومطبوعات تهران توجه خودرابراوضاع وحالات کشور درافغانستان معطوف داشته وادامه بحران را نتيجه مداخلات بيگانگان درامور داخلي اين کشور توصيف نموده اند .

روزنامه رسالت تحليلي دارد درمورد ريشه هاي ادامه بحران ومداخلات خارجي درامورداخلي افغانستان که عمده ترين عامل عدم قطع خونريزي ودرگيري، دست اندازي ودخالت هاي کشورهاي منطقه درافغانستان مي باشد .

ص(٤)

دحزب اسلامی امیر دلغمان په مرکزی جومات کی دجمعی تر لمانځه مخکی :

څوك چې په هره گوښه کی راټولیږی، ځان ته دامیرالمؤمنین لقب ټاکی، دادملك اوامت دتجزیی لارده

دجگړو او فتنو عامل هغه منافقین دی چی ځان ته مصلح او خیرخواه هم وایی

داسی کسان شته چی تراوسه یی له شیږو یا اوو امیرالمؤمنینو سره بیعت کړی و، اوس له یوه نوی امیرالمومنین سره بیعت کوی

مونږ له ټولو قوتونو څخه هیله لرو چی نور دخدای (ج) په خاطر په دی ملت رحم وکړی

مهترلام - دحمل ١٩ مه :

دحزب اسلامي افغانستان دامير وورو حکمتيار په امامت دتيري جمعي لمونځ دلغمان ولايت دمرکز په جامع جومات کي پداسي حال کي چي دلغمان ولايت په لس گونوټولوسيلونکو،اودحزب اسلامي افغانستان دځينو اداراتو کارکونکو، گډون درلود، اداء شو .

دشهادت خبريال له مهترلام څخه ربوټ راکوي ووږو حکمتيار ترخطبي مخکي لمونځ کونکوته ارزښتناکه ويناوکړه چي دهغي په ترڅ کي يي وويل : دجگړو اوفتنوعامل هغه منافقين دي، چي ځان ته مصلح اوخيرخواه هم وايي . په مختلفو ډلوگرځي، راگرځي اودکفر اواېمان ترمينځ په مينځني حدکي ولاړوي که داخلك ته واي ، جگړي به هم نه واي اوداحالات به نن نه واي .

دحزب اسلامي افغانستان امير زياته کړه : استاد رباني هم جگړو ته همدي خلکوتشويق کړي، همدي خلکوورته فتوا

(٤)مخ

شورای علمی ولایات شرقی تشکیل جلسه داد

جلال آباد - ١٩ حمل :

شوراي علمي ولايات شرقي کشور روزگذشته درمقر شوراي مذکور تشکيل جلسه داد .

خبرنگار شهادت از شهرجلال آباد گزارش ميدهد روزگذشته جلسه شوراي علمي ولايات شرقي کشور تحت رياست مولوي فضل هادي «شنواري» رئيس اين شورا دايرشدودرآغاز جلسه تمام الدين کشاف معاون شوراي يادشده راجع به وضع جاري کشور صحبت نموده پاليسي اين شورا رادر قضيه افغانستان غير جانبدارانه خواند .

ص(٤)

گزارش سالانه حقوق بشر سازمان ملل نشر شد

ژنيو - ١٨ حمل :

کميسيون حقوق بشر سازمان ملل متحد گزارش تازه اي را درمورد نقض حقوق بشر درجهان منتشر ساخته است .

« نکلس رودلي » مسئول کميسيون حقوق بشر سازمان ملل متحد طي کنفرانس مطبوعاتي اظهارداشته که درسال گذشته بيش ازهفتادکشورجهان درنقض

ص(٤)

به مناسبت (٢٨) مین سالروز تاسیس حزب اسلامی :

محفل باشکوهی در دفتر مرکزی نمایندگی حزب اسلامی در تهران برگزار شد

تهران - ١٩ حمل :

محفل باشکوهي به مناسبت تجليل ازبيست وهشتمين سالروز تاسيس حزب اسلامي افغانستان دردفترمرکزي نماينده گي حزب اسلامي درتهران برگزارگرديد .

يك مقام نمايندگي حزب اسلامي درتهران به شهادت خبرداد درين جلسه که روز جمعه گذشته داير شده بودده ها تن ازمتعهدين حزب اسلامي مقيم ايران شرکت ورزيده بودند .

درشروع جلسه محمدآصف «محبت» پيرامون نقش حزب اسلامي درساختار جامعه وحکومت اسلامي سخنراني نموده سپس غلام سرور «جميلي» مديرارتباط سياسي نماينده گي هاي حزب اسلامي راجع به انگيزه هاي تاسيس حزب اسلامي وجريانات تاريخي نهضت اسلامي درکشورمعلومات داد .

متعاقباً رحمت الله «وزيري» دررابطه

ص(٤)

دوکتورصادق ابونفیسه مشاور سیاسی مستیری :

اجتماع قندهار، جلسه افراد یك گروه مذهبی بوده وشخصیت های مذهبی درآن دست بالا داشتند

بخاطرمشخص شدن موضع طالبان ،مستیری عنقریب به قندهار سفرمیکند

مذاکرات غیر مستقیم میان اداره کابل وطالبان جریان داشته است

کابل :

ترديدمذاکرات ميان طالبان واداره کابل توسط بعضي سران گروه طالبان ناشي از اختلافات ميان رهبران جناح هاي سياسي ومذهبي اين گروه بوده که يکي به برگزاري مذاکرات قابل جدي دارد وديگري به شدت آنرا ردمينمايد .

روزنامه فرانتيرپست به نقل ازدوکتور صادق ابونفيسه مشاور سياسي محمود مستيري رئيس هيئت صلح سازمان ملل درامور افغانستان ميشگارد : مسئله برگزاري مذاکرات ميان طالبان واداره کابل

ص(٤)



داکه : غلام اعظم (سمت راست) رهبرجماعت اسلامی بنگله دیش روز شنبه بکس شیشه یی را گرفته که حاوی " ترازو" سمبول این گروه در انتخابات پارلمانی بعدی این کشور است . جماعت اسلامی یکی از گروهای مخالف عمده در جریان دوسال تظاهرات خیابانی برضد خالده ضیا وحزب مقتدر " نشنل پارتی " وی بود . خالده ضیا اخیراً از صدارت بنگله دیش کناره گیری کرد وراه را برای انتخابات وتشکیل کابینه جدید هموارنمود.

برادرحکمتیار با قوماندانان ومسؤلین ولایات ننگرهار وکنړ دیدار کردند

برادرحکمتيار امير حزب اسلامي افغانستان روزگذشته بايکعده ازاعضاي شورا هاي جهادي ولايات ننگرهاروکنر طورجداگانه ملاقات نمود .

خبرنگارشهادت ازجلال آباد گزارش مي دهد که دراين ملاقات حاجي عبدالقدير والي ولايت ننگرهار، محمدزمان غمشريك، انجنيرمحمود ،داکتر محمدآصف و قوماندان حضرت علي شرکت داشتند .

در خبرآمده است اين ملاقات که بيش ازيك ساعت طول کشيد برادرحکمتيار مواضع حزب اسلامي رادررابطه باقضاياي کشورتشريح نمود الزوده هراقدام مابه خاطر حفظ منافع علياي جهاد وکشور وملت بوده است .

درمقابل مسئولين جهادي ولايت ننگرهار ازاقدامات نيك مقام رهبري حزب اسلامي تمجيد نموده در رابطه با

ص(٤)

دطالبانو الوتکو دغورپرمرکزچغچران بمباری وکړه

ددی بمباریوله امله ددولت پرحواکونو برسیره دهماهنگی شورا حواکونو ته هم تاوان رسیدلی

چغچران - دحمل ١٩ مه :

درارسيدلو ربوټونو له مخي د طالبانو غورلخنگ مربوط څو جنگي الوتکو دچغچران هوايي ډگر او دهغي خوااوشا سيمي ديوه ناڅاپي بريد په ترځ کي سختي بمباري کړي دي، اوددولت دځواکونو برسيره يي دحزب اسلامي اوهماهنگي شورا مربوط ځواکونواوعامه وگړوته هم زيان رسولي دي .

خبري منابع ربوټ ورکوي (دغور) ولايت چي يوورکي ولايت دي خلك په امن اوسوله کي ځيل ورځني دژوند چاري پرمخ بيايي ،ظاهراً پدي اتهام بمبارشوي چي هلته دطالبانو پرضد نظامي تحرکات

(٤)مخ

سناتور امریکایی وارد افغانستان می شود

اسلام آباد :

هانك براون سناتورامريکايي که اکنون مصروف بازديدازپاکستان است . قراراست درپايان ديدارش ازين کشور وارد افغانستان شده وبا سران کابل ورهبران گروه هاي مختلف افغان مذاکره نمايد . براساس همين گزارش وي با برهان الدين رباني ، جنرال دوستم ، احمدشاه مسعود، سران طالبان، حاجي قدير و بعضي شخصيت هاي ديگرملاقات مينمايد. به نوشته مطبوعات پاکستان سفربراون به افغانستان نشان ميدهدکه مسئله افغانستان باردیگرمورد توجه امريکايي هاقرارگرفته وبخصوص پاليسي جديد امريکامنافع اين کشوردرافغانستان را مورد توجه مجدد قرارداده است .

ص(٤)

سرقنسل افغانستان در پشاور برکنار می شود

بی نظمی درامور مالی یکی ازعوامل برکناری وی خوانده شده است

سليمانشاه سرکنسول اداره کابل در پشاور تبديل مي شود ودرپست تخليه شده ، کنسول دايمي مقررمي گردد.

به گزارش روزنامه «نيوز» قراراست حاجي حيات الله عضوجماعة الدعوه الي القرآن والسنه » باشنده ولايت کنرعوض سليمان شاه که روزچهارشنبه عازم کابل شد، تعيين گردد .

ص(٤)

کسی به حیث امیر و ولی مسلمین انتخاب می شود که جامع همه شرایط باشد

تهران - ١٩ حمل :

حاجي محمدحسين « جعفري » ملامحمدعمرآخند را که اخيراً درجلسه قندهار لقب اميرالمومنين به وي داده شده او ... سربط اين مقام خواند .

محمدحسين جعفر مسئول مجمع فرهنگي انقلاب اسلامي درتهران شب

ص(٤)

جنگ هیچ دردی را دوا نمی کند

گرباچوف

گروزني - ١٨ حمل :

علي الرغم آنکه بوريس يلتسن رئيس جمهور روسيه پيام اطمينانيه عنواني جوهردودايف رهبر مبارزان چيچن درمورد قطع عمليات نظامي درسراسر چيچن ارسال داشته ، گزارش هاي رسيده ازميدان جنگ ، گفته هاي يلتسن را تائيدني کند .

ص(٤)

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگر عقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس: انجنیر حکمتیار
ناشر: ریاست ارشاد و فرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر «بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون - پشاور

دهم آهنگي شورى سياست

« هم آهنگي شورى » دافغانستان يومهم پوځي اوسياسي قوت دي، دهيوادپه زياته برخه کي عملاً حضورلري، دښه نقش دترسره کولو قوت ورسره دي، له سياسي تجربي اودقضاياوو په وړاندي دمعقول چلن دکولوله کفايت نه برخمنه ده، ديوه لوي حرکت اواقدام دکولو پوټانشيل لري، اوپه ډېره آساني کولاي شي چي ديوه فعال سياست په غوره کولوسره دهيواد دبحران معادله دحل پــه لوري واړوي .

خوپه دي واقعيت بايد اعتراف وشي چي تقريباً له يوه کال راهيسي دهم آهنگي شورى، په منځ کي نه هغــي هماهنگي شته چي بايد وي، نه ئي داسي فعال سياست اوکردار غوره کړي چي تري انتظارکيږي اونه ئي خپل قوت په لازمه فعاليت اوقاطعيت سره داسي عبارکړي چي زمونږدملت دروان مصيبت په پاي تــه رسولــو کي کــوم مشهود نقش ولري .

دلته بايد دا موضوع واضح کړو چي دهم آهنگي شورى په منځ کي دلازمي هم آهنگي دنه موجوديت معني دانه ده چي ګني په شورى کي دګډوتنظيمونو ترمنځ تفاهم نشته يارابطه کمزوري ده ، يالوي اختلاف موجود دي، کېداي شي دهغوي ترمنځ سه تاوده تماسونه ،تبادلي اومضبوطي اوپرله پسي اړيکي وي، په منظمه توګه يويل په جريان او اعتماد کي وساتي اوخه چي کوي، ددي ټولوپه برخه کي په يوه بل باندي باوروولري، خوزمونږ مقصد دادي چي داسي هم آهنګ اقدام او هم آهنګ کردارنه دي غوره شوي چي هغه دملت په سرنوشت لوي اغيزو غورځوي اوبحران دحل په خوا وخوځوي .

په تيريوه کاله کي هم آهنگي شورى ټول دفاعي اوعکس العملي حرکت کړي دي، په خپله ئي په يوه داسي ابتکار اواقدام لاس نه دي پوري کړي چي هغه رکود مات کړي، کوم بدلون راولي اونورحرکت کولو، عکس العمل ښودلو اودفاع کولو ته مجبورکړي .

دابايد واضح کړو چي کله موږديوه ابتکار، اقدام اوتهاجم خبره کوو، نومطلب مودانه دي چي هغه دي حتماً پوځي وي، په تير يوه کال کي وضعه داسي وه چي دهم آهنگي شورى لپاره ديوه مؤثر سياسي کارخورانبه زمينه برابره وه .

ځکه دجګړي ديوه لوري په توګه نه وه مطرح ، جګړه دطالبانو اودولت» ترمنځ وه . شورى ددي ښه موقع درلوده چي دسولي دراوستوپه عنوان تسود او مؤثر سياسي کار وکړي اودبوي پراخي اومعقولي جبهي په جوړولولاس پوري کړي .

هم آهنگي شورى دتيرکال زياته برخه له طالبانو سره په بې ګټي اوبي مفهومه خبروتيره کړه .

که هم آهنگي شورى په يوه دقيق پروګرام له طالبانو سره خبروته کينستلي واي، جريان ئي په منظمه اوهم آهنګه توګه تعقيب شوي واي، نظريات ،دريځونه اواهداف سره ګډشوي واي . نوله يوي خوابه په طالبانو باندي زيات فشارپريوت چي دتفاهم له عمليې سره دلچسپي وښيي اوهم به په جدي توګه دوخت دضايع کيدومخه نيوله کيده .

په هرحال دلته موږپه دي باندي چي ځــه وشول اوولي وشول، له بحث کولو تيرېږو راځودي ته چي هم آهنگي شورى ته پکارده چي دهيواد داوضاع دورووستي تحليل په کولو کي پــه ريښتياني معني خپل نظريات سره ګډکړي، دريځونه هم آهنګ کړي، خپل امکانات او صلاحيتونه پــه کار واچــوي ، خــپل فعال موجوديت او حضورثابت کړي، ملت تــه ددي احساس ورکړي چي دبحران حــل اودولس نجات غواړي . دايوه داسي روحيه اوميلان دي چي دهم آهنگي شورى دګوتونو داعتبار ضمانت ورکوي . ځکه ملت ته نن ترټولو شعارونوخوږ شعاردبحران دحل غــږدي ، دقــبادتونو اوتشکيلاتودباور اومعقوليت ترټولو مهم معيار ورته دادي چي څومره غواړي اوڅومره کولاي شي له اوسني دردناك حالت نه ئي وژغوري .

دهم آهنگي شورى غړيوتنظيمونو ته داضروري ده چي داوسنيو متفرقو اوغيرقانوني حاکميتونودتحفظ اويقا روحيه اويابه يواځي ځان دټول اويابوي برخي دواك دانحصارذهنيت له سره وباسي اوخپل حرکت ددي هدف اوستراتيژي له مخي عبارکړي چي دهيواد بحران ژرترژره حل شي دټولو په خوښه اسلامي حکومت جوړشي اوافغانستان دهر افغان لپاره دعزت اوشرافت دژوند کورشي .

دهيواد ګړندي سياسي تحولات، نتايج اومسئوليتونه

ب : داميرالمؤمنين ټاکل ،دطالبانو دمذاکراتو دروازي بندي کړي

محمود الرحمن ياسر — دريمه برخه

دطالبانو غونډي په قندهار کي با لاخره تر پنځه ورځو جرو بحث وروسته د ملا احسان الله څوا هغه ليکل شوي قطعنامه تأئيد کړه چي په هغي کي ملا محمد عمرآخوند د اميرالمؤمنين په تو ګه ټاکل شوي ؤ.ددي تر څنګ هغوي په کابل کي دحاکم نظام دجمهور رئيس استادبرهان الدين رباني پــه خلاف د جهــاد اعــلان وکړ ، دښځو او نجونو دمکتبونو د بنديدو اعلان ددي غونډي د مهمو اجتهاؤ ځخه ؤ . دقندهار غونډه طالبانو هغه وخت جوړه کړه چي عملاً ني د جنګ پــه ډګر کي د احمد شاه مسعود د قوتونو په مقابل کي ماته

> هغه څه چي ډېر معزز پاته ؤ هغه داميرالمؤمنين لقب ؤ . ځکه د اسلام له صدر او لږ ځه دهغه نه راوروسته د عمر بن عبدالعزيز نه راوروسته داسي شخصيت چي دغه لقب پري ونښلي او په هغه صفاتو ملبس وي چي داسلام دصدر خلفاوو درلودل ، نه دي پيداشوي.نو په دي اساس ددغه لقب دانتخاب له پاره چا جرئت هم نه دي کړي. نژدي يو کال دمخه يو څو عربي ځوانانو دغه اعلان وکړ چي وروسته بيا د تيرا په سيمه کي له مزاحمت سره مخ شول او اوس يي په کنړ کي خپل امارت اعلان کړي دي .هغه عام دعوت پيل کړي ،ټولو علماو او رهبرانو ته پيغام ليږي چي څرنګه چي «ترهر چا لومړي ما امارت اعلان کړي نو په دي اساس بايد له ما سره بيعت وشي.»

وخوړه اود خو ځلي اعلاناتو تر څنګ هم و نه توانيدل دکابل په لور کوم قدم را مخته شي .د بلي لوري طالبانو په وروستيو حوادثو کي ځانونه بواحي احساسول .بــه خپلمنځي دبمنيو او ډلبازيو اخته شوي وو.دملا رباني او ملا محمد عمر ترمنځ اختلاف عملاً رامنځته شوي ؤ، دطالبانو ميزبانانو او مشاورينو هــم د طالبانو د قيادت د غلطو پاليسيو له امله پوره شکايت

> ډيرو ته به دا د تعجب خبره ښکاري چي طالبانو په لږ موده کي دومره نظم و نسق او سياسي هوښيارتيا له کومه کړه خو که حقيقت تــه وکتل شي دادطالبانو هوښــيارتيانــه ،بلکي د افغانستان پيژندونکو او دهــغوي د تحقيقاتي راپورونو نتيجه ده چي نن يي دطالبانو په نوم عملي کوي . همدا اوس دطالبانو ددومره پراخه مصارفو په بودجه هيڅوك نه پوهيږي .له کومه کيږي : د(۱۵۰۰)کسه علماووغونډه چي طبعاً دري زره نور پرسونل لکه دريور ، بــادي ګارد او ... په کي شامل وو نژدي لس ورځي په پرله پسي توګه ساتل خــو په وظيفوراتلولو نه کيږي .

کاؤ.په غونډواو مجالســو کي به يي په ښکاره اوپټه توګه ددوي په خلاف بدرد ويل پيل کړل .ان تر دي چي ويل کيږي د سعودي حکامو د طالبانو ميزبانانو ته شکايت کــړي ؤ چي د طالــبانو دغه پاليسي چي نــه ديني ايخ لري اونه منطقي زمونږ دسپکاوي سبب ګرځيدلي او غواړو ددي جنجال ځخه نور خپل ځانونه خلاص کړو .

په هر صورت ديوه دوست خبره چي دميزبانانو دغه تونده او ترخه لهجه دطالبانو په هکله ممکن زمونږ د اشغال په خاطر وي ترځو مونږ ته له خپله پلوه داد راکړي .هــر څــه چي دي خو دي افغانستان کي پخواد اميرانو پادشاهي وه اوپه هر کور کي به يو امير دځپل بيرغ سره سر راپورته کاوه .بيا دبي بي سي او امــريکا غــږ راډيو ګانو له خواجوړوشوو قوماندانانو پادشاهي وه چي مجلل عمارتونه پــه دهغوي په اختيار کي ورکول کيدل .اما هغه څه چي ډير معزز پاته ؤ هغه داميرالمؤمنين لقب ؤ . ځکه د اسلام له صدر او لږ ځه دهغه نه راوروسته د عمر بن عبدالعزيز نه راوروسته داسي شخصيت چي دغه لقب پري ونښلي او په هغه صفاتو ملبس وي چي داسلام دصدر خلفاوو درلودل ، نه دي پيداشوي.نو په دي اساس ددغه لقب دانتخاب له پاره چا جرئت هم نه دي کړي. نژدي يو کال دمخه يو څو عربي ځوانانو دغه اعلان وکړ چي وروسته بيا د تيرا په سيمه کي له مزاحمت سره مخ شول او اوس يي په کنړ کي خپل امارت اعلان کړي دي .هغه عام دعوت پيل کړي ،ټولو علماو او رهبرانو ته پيغام ليږي چي څرنګه چي «ترهر چا لومړي ما امارت اعلان کړي نو په دي اساس بايد له ما سره بيعت وشي.» هغه وايي چي په قوم قريشي ، په نسب عرب ، په عقيده سلفي او يوه عالم دي .د وجرد اعضايي سالمي دي او اول هغــه مواصفات چي ديوه شرعي امير له پاره ورته اړتيا ده ، پــه نومورى کي موجوددي .دهغه ددعوت لړۍ لا تر اوسه هم روانه ده .ددي ورور تر مخه هلته په نورستان کي مو لانا محمد افضل خپل ځان امير المؤمنين اعلان کړي ؤ خو امارت يي دپيسو له ختميدو سره سم ختم شو .د جهاد رهبران څو هيڅ يوداميرالمؤمنين ځخه ځان کم نه ګڼي . اواوس چي ملا محمد عمرآخوند چي د شرعي مواصفاتو ځخه محروم اود ملا احسان الله له اړخه د راغونډ کړل شوو علماوو په منځ کي په جبري تو ګه د اميرالمؤمنين په نوم اعلان شو .نو داميرالمؤمنين لقب هم خپل پخواني افاديت له لاسه ورکړ .

په اوسني وخت کي ملا عمر آخوند ته په کار ؤ چي يو ځل ځان د طالبانو د تحريک امير کړي تر خو دځنګ دوستان يي تري په ځنګ نه کړي .بيا پــه افغانستان کي دځپل حکومت دجوړيت وروسته دټول ولس تر مخ ودريږي اود موفقيت په صورت کي ځان د افغانستان حاکم او بيا نورو اسلامي هيوادونو ته دځپل حاکميت پيغام وليږي ترځــو امارت يي په مؤمنانو قايم شي .بواځي په قندهار او يا په افغانستان کي ځوك اميرالمؤمنين نه جوړيږي.

په هر صورت ،طالبانو د ملا عمر آخوند د اميرالمؤمنين په ټاکلو خپلي د خبرو اترو دروازي د تړلي .ځکه چي داميرالمؤمنين تر اعلان وروسته چاته د طالبانو ســره د معاملي کولو اويا دهغوي ســره د برابرحق نه پاتي کيږي حزب وحدت چي ځووړځي دمخه يي دطالبانو سره دګډو نظامي پروګرامونو اعلان کړي ؤ اوس ددي اشتراك نــه ووت ، ځکه مجبوردي دمــلا عــمر آخوند امارت ومني .داسي برېښي چي دطالبانو او حزب وحدت تر منځ معادله په حزب وحدت يو ځل بيا د ګارته سه اوڅهاردهي د پيشو سره مخ کړي ځکه چي طالبــان غــواړي ددغــه ځاي ستراتيژيکي سيمي په خپل کنترول کي واخلي تر څو ددي لاري کابل تر فشار لاندي راوړي .لــه بله پلوه طالبانو عمومي عفوه اعلان کــړي . دا عفوه د ټولو مجاهدينو له پاره يعني هغه چا چي ١٤کاله يي دروسي زبر ځواك مقابله کړي .شهيدان يي ورکړي ، کونډي او يتيمان وريــه غــاړه دي او ددغه ستر تاريخي جهاد وياړ ور په برخه دي او اوس دطالبانو ديو کلن غورځنګ له لوري مهاجر شوي .اعلان کړل شوي. طالبانو په خپل دغه .اعلان سره دا شرط هم وړزيات کړي چي دا ټول خلك به د خپلي سيمي د علماوو او يا سپين ږيرو ضمانت هم ولري. دښځو او نجونو د تعليم دبنديدو اعلان شوي بواځي تر ټهو کاله پوري نجوني کولاي شي د اسلامي حدودو په رڼا کي تعليم

تر لاسه کړي . راډيو او تلويزيون په کلکه مخالفت شوي او دهر چا په کور کي چي ټيپ ريکاډر او تلويزيون را پيدا شي نو په هغه يي تعذيبوي .دا اوداسي ځه نور مطالب دي چي طالبانو د هغو په هکله د ... پيکړه کړي ده دطالبانو دمسئولينو دويناوو ځخه ښيي چي طالبانو پښيلي د هيواد په ... او سيمو باندي په تنهايي سره حکومت وکړي . دطالبانو ميزبانان هم په ... لته کي دي . په دي اساس ... پريږدي چي دطالبانو ... عقب نشيني وکړي .ډيرو ته به دا د تعجب خبره ښکاري چي طالبانو په لږ موده کي دومره نظم و نسق او سياسي هوښيارتيا له کومه کړه خو که حقيقت تــه وکتل شي دادطالبانو هوښــيارتيانــه ،بلکي د افغانستان پيژندونکو او دهــغوي د تحقيقاتي راپورونو نتيجه ده چي نن يي دطالبانو په نوم عملي کوي . همدا اوس دطالبانو ددومره پراخه مصارفو په بودجه هيڅوك نه پوهيږي .له کومه کيږي : د(۱۵۰۰)کسه علماووغونډه چي طبعاً دري زره نور پرسونل لکه دريور ، بــادي ګارد او ... په کي شامل وو نژدي لس ورځي په پرله پسي توګه ساتل خــو په وظيفوراتلولو نه کيږي او نه دومره پراخه جنبه لري. له نظامي مشاورينو ... کېدلای شي

او د افغانستان په داخل کي څرګنداري شوي وي ... له لاري پاکستان ته راتلي چي مجاهدينو ونيولي . د ميزبان هيواد مسئولين پري خفه شول او ويي ويل چي دا موټر د جنرال دوستم له پاره استيشن ... کله چي مجاهدينو دا لاري پريښودي نو هغه دخوست له لاري طالبانو ته ولېږل شوي .همدارنګه موده مخکي « ۵۰ » لاري نظامي مواد د مولوي محمد نبي له خوا د تحقي په نوم طالبانو ته ور استول شوي .د کوټي او چمن له لاري څو ددي وسايلوټګ

> په اوسني وخت کي ملا عمر آخوند ته په کار ؤ چي يو ځل ځان د طالبانو د تحريک امير کړي تر څو دځنګ دوستان يي تري په ځنګ نه کړي .بيا پــه افغانستان کي دځپل حکومت دجوړيت وروسته دټول ولس تر مخ ودريږي اود موفقيت په صورت کي ځان د افغانستان حاکم او بيا نورو اسلامي هيوادونو ته دځپل حاکميت پيغام وليږي ترځــو امارت يي په مؤمنانو قايم شي .بواځي په قندهار او يا په افغانستان کي ځوك اميرالمؤمنين نه جوړيږي.

رانګ اجازه نشته ځکه چي هغه ټول مواد د ترکستان د تجارتي اموالو په نوم تيريږي او بيا دطالبانو سيمي ته ورځي .دا ټول هغه څه دي چي بواځي ميزبان هيواد يي په تنهايي سره نشي کولاي ، بلکي تر شا يي اورده لاسونه دي چي غواړي زمونږ هيواد دغسي بحرانونو کي لعدارګيرکړي .همدغه لاسونه دي چي ... ته سپودل طالبان د جهادي تنظيمونو سره رابو ځاي شي بلکي ... عکس غواړي طالبانو او جهادي تنظيمونو دا

> دطالبانو غونډي په قندهار کي با لاخره تر پنځه ورځو جرو بحث وروسته د ملا احسان الله څوا هغه ليکل شوي قطعنامه تأئيد کړه چي په هغي کي ملا محمد عمرآخوند د اميرالمؤمنين په توګه ټاکل شوي ؤ.ددي تر څنګ هغوي په کابل کي دحاکم نظام دجمهور رئيس استادبرهان الدين رباني پــه خلاف د جهــاد اعــلان وکړ ، دښځو او نجونو دمکتبونو د بنديدو اعلان ددي غونډي د مهمو اجتهاؤ ځخه ؤ . دقندهار غونډه طالبانو هغه وخت جوړه کړه چي عملاً ني د جنګ پــه ډګر کي د احمد شاه مسعود د قوتونو په مقابل کي ماته وخوړه اود څو ځلي اعلاناتو تر څنګ هم و نه توانيدل دکابل په لور کوم قدم را مخته شي .

.د پنجشنبي (دحمل ۱۶مه) د CNN تلويزيوني شبکي د خپلي ښځينه نمايندي کرستينا امانپور يو راپور دهرات ځخه نشراو.چي پــه هــغه کي دطالبانو وسله وال ځوانان چي د راکټ اوکلا شنکوف پــه نيولو نه پوهيدل ونبودل شول لوضعاً دانسان ذهن ته سوال پيداکيږي چي آيا دا همدا طالبان دي چي راکټ په لاس کي نشي نيولاي خوډشپي فتوحاتو يي ټول افغانستان نا قراره کړي دي .ديوه دوست د خولي وينا ده چي نژدي شل شپي دمخه « ۳۰ » لاري چي په نظامي مهماتو دکي وي

کشمکش تر يوه وخته پوري دوام وکړي .هغوي په لومړيو وختوکي دمجاهدينو دخپلمنځي اشتباهاتوځخه پوره ګټه پورته کړه ، جهــاد ، اسلام ،اسلامي حکومت او مجاهدين يي پوره بد نام کړل او وريسي دافغانستان دغه طبقه پاتي وه ، څو اوس يي دي طبقي پسي هم راخيــشي تر څو ددغــسي غښو غښتو پريکړو پــــه نسبت دهغوي سره دمذاکراتو دروازي وتړل شي اوهغوي هم بد نام او نا مراده کړي او په دي ترتيب په راتلونکو خبرو اترو کي ماهــيان بخپله ونيسي.

دپردي خبري په پرده کي ښي وي

ميوند

ادب پوهان وايي افسانه" پښتو تــه له اردونه په «شليدلي پته » کي د«کونډي نجلي» په بڼه راغــلي ده ، اوس اوس پښتوته لــه اردونه يوبل سوغات هم دچاخبره لګيادي راروان دي .

يوه نيمه دوي مياشتي مخکي دبي بي سي اردو خپروني يــوه اوني دخپل يوه پروګــرام « جنس اوروصحت» اعلانونه خپرول . دغه پروګرام چي ښاغلي وسعت الله خان ترتيب کــړي دبي بي سي دوپروپروګرامونو پــه پرتله ورتــه زيات تبليغاتي کمپاين وشو . دوجنس اوصحت » لومړني پروګرام پدي ويناپيل شو : يــو مــاشوم چي ځلورکلن شي له خپلي مورنه پوښتني کوي چي زه له کومه شوم . مور اوپلار سره لدي چي غواړي اولادي له درواغوځان وساتي اوپه ريښتيا اموخته شي خپله اولادته ددغه پوښتني په مقابل ددروغوځواب ورکوي، معمولاً ورته وايي چي : په بازارکي مورواخيستي ، ياموچيږي په لاراوپارك کي وموندلي اوداسي نور . له همدي ځايه ده چي ماشوم دخپلي لومړني پوښتني ځواب دروغ اوري اوله همدي ځايه پــه دروغــو عادت شي، ددغودروغونه دراګرځيدو لــپاره ښاغلي وسعت الله خان وړانديزکوي چي په همدغه ځلورکلني بايــد مورخپل اولادته دده دپيدايښت ټوله کيسه وکړو اوپه هرڅه اوټول زيراوزوربي پوه کړي .

لدي وروسته پروګرام نورهم وړاندي ځي اوهغه ځــه وايي چي دبي بي سي پښتوپروګـــرام يي « دناويلي خبري » په بڼه وړګدشوي .

پښتوخپروني ديرښه سرليك ورته ټاکلي «ناويلي خبري » ديرښه نوم دي لدي ځرګنديږي چي داسي ځــه هم شته چي هغه دويلوڼه وي او که څــوك ناويلي خبري کوي نوهغه بيا څــوك نه اوري اوکه يي اوري هم نويه چاپښي نه لګيږي .

استادالفت وايي :

نه وهه خبرپرده مي لــږ، غوند چي پورته کړه .

نه دي دويلو هغه څه چي ماليدلي دي

داسي ويري خبري نشته چي هغه دويلو نه وي اوڅوك يي نه وايي - هيڅوك هم

حال دويلو لايق نه دي

هرڅه نه وايي - پــه ژوندي کي ډيري خبري دويلووي نوډيري داسي هم دي چي له وويلويي نه ويل ښه وي . ټولي خبري دويلوځکه نه وي چي دانسان خيال اوذهن کله کله پداسي ورکواوکرو سرشي چي دهغوويل ګناه وي سره لدي چي په خيال کي ګرځيدل يي ګناه نه ګڼل کيږي .

استادالفت وايي :

ترځوچي دښځومخونه پټ وي، خبري به هم په پرده کي وي ځکه چي په پښتوکي خبره هم مونثه ده .

براځي خبره لاځه چي ژبه ، وينا، معنا، خطابه اومقاله هم دتأنيث علامي لري، هغه ويناچي ابتكار پكي وي داوب پردي ته لاضرورت لري . که څه هم په لندن اوبي بي سي کي دښځومخونه پټ ندي چي خبرو ته يي دپردي ضرورت وليدل شي خو هغه په لکونو پښتني چي دغه خبري اوري هغوي پټ مخونه دحيا، عزت اوعفت روح ګڼي .

اوس هغه افغانان چي پــرده خپله حيا اوعزت ګڼي اوهرڅه پــه پرده کي ساتي دغــسي بي پردي اودنــه ويلو خبري به واوريدي شي ؟

داکه ديري ضروري اوحياتي هــم وي دخپل حيا اوپردي مثالي به يي ونه ګڼي ؟ وسعت الله ځان چي په اردوکي د « جنس اوصحت » پروګرام وړاندي کوي په اوريدونکو کي يي شيخي ان ترصدراعظمي پوري رسيدلي، د وســعت الله خان داوريدونکو وسعت نظر دومره وسيع دي چي ددش انتيناګانو چينلونوله لاري يي په خيال اوتصورکي داروپايي ژوند مظاهرداسي ورګډ شوي چي اوس « ناويل خبري» هم ورته دومره سخي اوسپوري نه ښکاري .»

خوزمونږ دوطن هيندي چي کله پيسورته راغلي نوله تلويزيون نــه يــه يي هم مخ پټاوه . ددغسي يووطن توورسري به ځنګه له خپلو وروڼو، پلرونو اوميندوسره دچادنه ويلو اونه کولو خبرو ته غوږکيږدي اوله هغويه ګنه واخلي .

که څوك دلنــدن ، پاريس اوهندوستان تجربي په ډوران اوويجاړافغانستان کي پلي کوي دايه دهغــي يوي ناکامي تجربي تکراروي لکه امان الله خان چي افغاني ټولني تــه داروپايي تهذيب اوتمدن دوررګډولو هوس کړي ؤ .

افغانان دويلو اوکولو ډيري نوري خبري هم لري، چي لاچاخوله نده پري چوله کړي پټي خبري پټي ښي وي . په افغانستان کي دويلو دومره ډير څه اوډيري خبري شته چي ناويلونه دومره ژر وارئشي رسيدلي که څوك ديټواويږدي دخبرو ده ځرګندولو « وزيار» اوغځه کوي يقيــنا چــي خبره رسوايي تــه رسيږي اوطبيعي ده چي هيڅوك هم پخپل لاس له رسوايي سره دمخامخ کيدوحماقت نه کوي پدي اړه ساغلي شورهم ډيرښه يادونه کړي وه ده خواره اوترخه په ژمايه خبرلورو هم ځکلي وي که څه هم دده دلنکي له روح سره داختلاف هيڅ حوازته ليدل کيږي خوداسي معلوميده لکه چي دخوږو اوترخو توازن يي پکي ندي ساتلي ځکه خودترخو خوندبکي زيات ښکاريږي ، په پاکستان کي چي څومره مرچکي او ترخه ډير استعماليږي پــه مقابل کي يي همدومره مټايي اوخواږه هم کارولي شي که دلته دمټايي اوخوږو ددومره زيات استعمال په وړاندي مرچکي اوترخه تــه استعمالدي نوټول به دشکرېه رنځ اخته شوي وو . خوکله کله ترخــه شــرخـوږو ډيرځوند وزلګيږي اولدغه خوند تــه هيڅوك انکار نشي کولي .

دعشق زخم به څوك ځه ګنډي رحمانه
چي ګنډون يي په پرهيانډي پرهرشي

اطفال مسلمان هندي در يك مدرسه محلي مصروف فراګيري قرائت قرانکريم اند

دحج دوهم فرض طواف دی

داخبره باید حاجیان په خپل ذهن کی وساتی چی طواف دری دوله دی، لمړی سنت ، دوهم فرض، دریم واجب دی .

سنت طواف ته طواف قدوم یاطواف تحیة یعنی حرم شریف ته دننوتو اوهغه ته دسلام کولو طواف وایی، داطواف مرکده سنت دی، دا په هغوحاجیانو سنت دی چی له نورو هیوادونوڅخه راغلی وی، یوائی دحج اویادقران حج نیت نی کړی وی ، پدی دواړوکی صرف دومره فرق دی چی قارن لمړی دعمری طواف کوی اوبیا دقدوم طواف کوی خومفرد یوازی دقدوم طواف کوی، طواف قدوم هله پیل کیدای شی چی کله حاجی مسجد حرم ته ورسیږی .

طواف زیارت : طواف زیارت ته طواف افاضه هم وایی، داطواف فرضی اودحج رکن دی کـــه داطواف پاتی شی نوحج فاسدیږی اوټول کوشش ئی هدرځی، بل کال ته وریاندی قضاضروری ده.

دطواف زیارت وخت : ددی طواف شپه اوغوره وخت لسمه د ذوالحجی ده ، کله چی له حلق (سرکلولو) قربانی اونوروشیانوڅخه فارغ شی، لیکن که دکوم عذراومجبوری له کبله په لسم د ذوالحجی ونکړی شی نوبیا یولسم اودولسم ذوالحجة کی داطواف کولی شی ، خوکه په دولسم دذوالحجی ئی هم داطواف ونکړاوتیرینه پاتی شونوحج ئی ونه شرکال ته وریاندی قضاضروری ده .

طواف وداع یاطواف صدر : له حج نه دفارغیدونه وروسته چی کله حاجی له مکی مکرمی نه روانیږی نوهغه ته پکاردی چی یوځل بیا دکعبی شریفی طواف وکړی، دغه طواف ته طواف وداع هم ویلی شی داطواف واجب دی .

دحاجیانو له پاره روښانه دیوه

لنډ مګر مکمل معلومات

ژباره اولنډیز : محمدخلیل — دوهمه برخه

دطواف سنت طریقه : کله چی حاجی مکی ته داخل شی نوله هرڅه نه مخکی دی په دیراحترام اوخشوع سره مسجد حرام ته لاړشی پرکعبی شریفی دنظرلګیدوسره سم دی تکبیراوتهلیل ووایی اوبیادی درودشریف ولولی وریسی دی دغه دعاووایی :

اللهم اغـفرلی ذنوبی وافتح لی ابواب رحمتك ، (ای الله زما ګناهونه وبښی اوزما لپاره درحمت دروازی پرانیزی) بیا دی له هغه نه ووځی اودطواف کولو لپاره دی چمتووالی ونیسی.له مسجد حرام ته د وتلو په وخت کی دی دادعا ولولی اللهم افتح لی ابواب فضلك و سهل لی ابواب رزقك (ای زما ربه ازما لپاره دخپل فضل او کرم دروازی پرا نیزه اودرزق دریعی راته آسانه کړه .)

طواف کوونکو ته پکاردی چی له طواف کولو نه مخکی خپل ځانادرله ښی تخرګ نه وباسی او په کیڼه اوږه یی واچوی یعنی د سم اغوستلو پر ځای دی یی څوړند پریږدی ، دی ته په شریعت کی اضطباع ویل کیږی بیا دی د کعبی په طرف مخ کیږی د حجر الاسود او رکن یمانی تر منځ دی ودریږی او د طواف کولو نیت دی وو یی . اللهم انی اریدطواف بیتك المحرم فیسره لی وتقبله منی، (ای ربه ازه ستا دمحرم کور طواف کول غواړم ، زما لپاره دی ادا کول آسانه کړی اوزا نه قبول یی کړی.له نیت او دعا نه وروسته دی کعبی ته مخامخ ودریږی اوښی اړخ ته د روان شی کله چی حجرالاسود ته ورسیږی نو دواړه لاسونه دی دا سی پورته کړی چی دلاسو ورغوی یی حجرالاسود طرف ته وی له دغه دعا نه وروسته چی «بسم الله والحمد لله والله اکبر ولااله الاالله والصلواة والسلام علی رسول الله » ودی، حجرالاسود دی مسح کړی اوبیا دی دا دعا ولولی «اللهم ایمانابك واتباعا لسنة نبیك محمد صلی الله علیه وسلم (ای الله زه پر تا ایمان لرم او دا طواف او اسلام ستا دنبی محمد «صلعم »په تابعداری کی کوم) .له دی نه وروسته دی دکعبی دروازی طرف ته روان شی کله چی له حجر اسود نه تیرشی نو بیا دی کعبه شریفه خپل کیڼ اړخ ته کړی او له حطیم نه وتلی بهر تیرشی ، دحطیم زمکه دکعبی په حکم کی ده که هغه ل غوندی هم پاتی شو نو طواف نه کیږی، پدی ترتیب چی دوهم ځل حجر اسود ته ورسید نو د طواف یو چکر پوره شو پاتی شپږ نورچکرونه دی هم په همدی ترتیب پوره کړی ، سهو لپاره پکار دی چی په لمړیو دریو چکرونو کی رمل وکړی ، دطواف په وخت او له طواف نه وروسته ملتزم ،میزاب رحمت مستجار ، رکن عراقی اورکن یمانی کی چی ټول ددعا کولو ځایونه دی ودریږی اودعا وکړی

مقام ابراهیم کی لمونځ : کله چی له طواف نه فارغ شی نوبیا دی مقام ابراهیم ته راشی هلته دی دوه رکعت لمونځ ادا کړی بیا دی ملتزم ته لاړشی هلته دی هم په خشوع اوعاجزی سره دعا وکړی ، بیا دی زمزم ته لاړشی هلته دی په ولاړه په دریو ساګانو سره دزمزم اوبه وڅښی .

په طواف قدوم (سنت) قدوم کی چی کوم حاجی رمل (تیزتګ) کړی وی په فرضی طواف یعنی طواف زیارت کی وریاندی ضروری ندی ،اوکه یی نه وی کړی نو بیا دی یی خامخا وکړی . خوطواف وداع کی دا دواړه ضروری ندی ، دسخوطواف هم په همدی شکل دی خورمل اواضطباع دی نه کوی او نه دی په منم، شغلی او نه دی لاسونه خوزوی د طواف په وخت کی چی په ګرمو ځایونو کی ددعا کولو حکم شویدی هلته دی په ډیره دعاوکړی ، خونارو دعا کول لویه ګناه لری کول یی ندی پکار .

دطواف واجبات : په طواف کی اوه شیان واجب دی ، ۱- طهـــــارت (پاکی) ۲- سترعورت (دبدن پټول) ۳- دطواف شروع له ښی اړخ نه کول ٤- پیاده طواف کول ، خو چی څوك معذوروی هغه کولی شی چی په سورلی باندی یی وکړی . ٥ - په ولاړه طواف کول ، ٦ - له حطیم نه بهرطواف کول ، ۷- اوه پیری کول ، که له دغو شیانو څخه یوهم پاتی شی نوحاجی دی یی دوباره وکړی که دوباره یی ونکړه نوقربانی وریاندی لازمیږی ، لکه څرنګه چی په لمونځ کی دواجبو په ترك سجده سهوه واجبیږی دغه شان په حج کی قربانی وریاندی واجبیږی .

نوربیا

ازفراز منبر

ارتداد فکری

فلسفه ایکه از اروپا وارد شد :

غرب فلسفه ئی برای مشرق زمین به ارمغان آورد که مبنی برانکار ازدین بود ، اساس آن بر انکار قوت کارفرما و متصرف در عالم هستی استوار گردیده بود، انکار از نیروی با شعوری که این عالم هستی را از عدم به و جود آورد و زمام امور کائینات در دست او قرار دارد .(الاله الخلق والامر : آگاه باشید اوخلق کرد و حکمفرمائی ازآن اوست) فلسفه ایکه از عالم غیب ، وحی ، نبوت ، رسالت ، شرایع آسمانی و ارزش های اخلاقی و معنوی یکسر انکار می کرد .

این بود اساس وتهداب مشترك تمام فلسفه های غرب که بعضی روانشناسی را عنوان می کرد و بعضی ازسیاست و اقتصاد بحث می کرد، این فلسفه ها به اعتبار موضوعات خویش به هر پیمانه ایکه ازهم مختلف بودند ولی درین نقطه که انسان و کائینات را ازنظر مادی بنگرند و ازآن تعبیر مادی نمایند باهم اشتراك نظر داشتند .

این فلسفه ئی بود که بر جوامع اسلامی مشرق یورش برد و تا باطن آن نفوذ کرد ، این فلسفه بزرگترین دینی بود که در تاریخ انسانیت بعد از اسلام ظهور کرد . بزرگترین دین به اعتبار و سعت و پنهاوری اش ، عمیق ترین دین به اعتبار ریشه های عمیقش و نیرومندترین دین به اعتبار مسخرکردن قلوب و اذهان را درجوامع اسلامی.قشریکه ازنظر علم وفهم ممتاز بودند براین دین فریفته شدند آنها نهایت گورا آن را ازحلقوم فرو بردند وبه اطمینان هضم نمودند . این قشر کاملاً چنان ازین دین پیروی کردند همچنانکه مسلمانان از اسلام پیروی کردند و محبان ازمحبت ، حتی آنها براین دین جان میدهند وشعایر آن را احترام می گذارند ، داعیون و رهبران آن را گرامی میدارند ، در آثار ، تالیفات و نوشته های خویش بطرف آن دعوت میدهند و هرآن دین ، نظام و طر زفکری را که باآن متصادم واقع شود تحقیر وتوهین می نمایند ، آنها با هر پیرو و هوادار این دین رابطه داشته اخوت و برادری استوار می نمایند و به این ترتیب پیروان این دین جدید به یك خانواده ، یك گروه و یك امت تبدیل گردیده اند.

مذهب لادینیت : این دین که پیروان و هوا دارانش آن را به دین مسمی نمی کنند چیست ؟ انکار ازو جود ذات علیم وخبیریکه این کائینات را ازعدم بوجود آورد و تقدیر و رهنمائی آن بدست اوست ، انکار ازحیات بعد الموت، حشر ، جنت ، دوزخ ، ثواب وعذاب ، شرایع آسمانی ، حدود شرعی،انکار این حقیقت که خداوند بر تمام انسان ها پیروی و اطاعت رسول برگزیده اش (خاتم الرسل) را فرض گردانیده است و هدایت وسعادت را در پیروی از ذات گرامی او منحصر نموده است،انکار از اینکه اسلام آخرین پیام خداوندی است که کفیل همه سعادت های دنیا و آخرت انسان میباشد ، اسلام نظامی است برتر وخوبتر ازهمه نظام ها وسیستم ها و یگانه دینی است که مقبول به الله که جز آن هیچ دینی مقبول نیست . ویگانه دینی است که جزآن فلاح و رستگاری انسان در دنیا و آخرت منحصور نیست و انکار ازین حقیقت که دنیا برای اسلام پیدا شده و انسان برای الله .

امروز قشریکه در اکثر ممالك اسلامی زمام امور را بدست دارند یك تعداد زیاد آن ها پیروهمین دین می باشند ، گرچه دریختگی ایمان وجدت عمل همه دریك درجه قرارندارند .

الحمد لله یك تعداد خاصی ازین قشر را آنانی تشکیل میدهند که به خدا ایمان دارند و از اسلام پیروی می نمایند لاکن ویژگی های این قشر بر آنها غالب گردیده است و افراد نهایت مستعد و نیرومند آنان پیروهمین مادیت و فلسفه غرب اند که برالحاد و لادینیت استوار میباشد .

